**بسم الله الرحمن الرحيم**

**د پوښتنې ځواب**

**د مالي-نيجر-بورکينافاسو درې اړخيز هوکړه ليک**

**(ژباړه)**

پوښتنه:

په بورکينافاسو، نيجر او مالي کې د نظامي شورا رهبرۍ د ۲۰۲۴م د جولای په ٦مه د نيجر په پلازمېنه نيامي کې د يوې ناستې پرمهال د "کنفډريشن" هوکړهليک د لاسليکولو خبر ورکړ. ايا د دغه اعلان تر شا کوم نړيوال قدرت دی؟ که داسې وي، نو کوم يو دی؟ يا دا چې دغه هوکړهليک پخپله د دغو دولتونو خپل او داخلي اقدام دی؟ له تاسو ډېره مننه!

ځواب:

د دې لپاره چې موضوع ښه واضح شي، لاندې مسايلو ته کتنه کوو:

۱ـ دغه درې دولتونه له هغو انقلابونو وروسته چې په ۲۰۲۰م -۲۰۲۳م کلونو کې رامنځته شول، د غرب مزدوران شول او د هغه په امر عمل کوي؛ لکه څنګه چې موږ د ۲۰۲۰م د سپټمبر په لومړۍ نېټه د پوښتنې په ځواب کې د ګويتا اسيمي په رهبرۍ د مالي د انقلاب په اړه، همداراز د ۲۰۲۳م د فبرورۍ په ۷مه مو د پوښتنې په ځواب کې د ابراهيم تراوري په رهبرۍ د بورکينافاسو د انقلاب په اړه او همدارنګه د ۲۰۲۳م د اګېسټ په ۱۵ مو د عبدالرحمن تيچاني په رهبرۍ د نيجر د انقلاب په اړه ځوابونه ويلي وو. دا درې واړه خاورې اسلامي دي.

الف: مالي اسلامي خاوره ده، چې اسلام په يوولسمه پېړۍ کې هلته رسېدلی او اوس هم په مالي کې د اسلام دين تر ټولو مخکې دی، چې شاوخوا ۹۰سلنه خلک يې مسلمانان دي، ۵ سلنه نصرانيان او ۵ سلنه يې د نورو دينونو پيروان دي. پلازمېنه يې باماکو ده.

ب: بورکينافاسو د افريقا په لويديځ کې هغه دولت دی، چې اسلامي خاوره ګڼل کېږي. د ۲۰۰٦م کال د احصايې له مخې تر ٦۰.۵٪ ډېر اوسېدونکي يې مسلمانان دي، شاوخوا ۲۳٪ نصرانيان او پاتې يې د نورو دينونو پيروان دي. د دې خاورې مساحت ۲۷۴۲۰۰ کيلومتره مربع دی، د اوسېدونکو شمېر يې ۲۱۵۱۰۱۸۱ کسانو ته رسېږي او د خپل اقتصاد په برخه کې پر زراعت تکيه دی او "واګادو وګو" يې پلازمېنه ده، چې د اسلامي خاورو يو مهم ښار ګڼل کېږي.

ج: نيجر د افريقا په لويديځ کې موقعيت لري او د نيجر سيند ته يې نسبت ورکول کېږي، نو ځکه د نيجر په نوم يادېږي. دا خاوره د جنوب لخوا له نايجريا او بينين سره او د لويديځ لخوا له بورکينيافاسو او مالي سره او د شمال لخوا له الحزاير

او لیبیا سره ګډه پوله لري؛ په داسې حال کې چې تیچاد له ختیځې خوا ورسره ګډه پوله لري. په ټولیزه توګه د نیجر مساحت شاوخوا ۱۲۷۰۰۰۰ کیلومتره مربع دی. نیجر اسلامي خاوره ده او اسلام د دې خاورې تر ټولو لوی دین دی چې په دې خاوره کې د مسلمانانو شمېر ۹۹.۳٪ ته رسېږي. نیجر ته په ۱۵مه پېړۍ کې اسلام د سونګای د حاکمیت د پراخوالي او د عربي مراکش او مصر د صحرا له لارې د سوداګریزو اغېزو په سبب خپور شوی دی او د دې خاورې پلازمېنه نیامي ده.

په دې ترتیب هغه انقلابونه چې په ۲۰۲۰ او ۲۰۲۳م کلونو کې په مالي، نیجر او بورکینافاسو کې رامنځته شول، د امریکا په سرپرستۍ او ملاتړ وو.

۲ـ یادو دریو دولتونو د ۲۰۲۳م د سپټمبر په ۱٦مه نېټه "د ساحل دولتونو تړون" په نیجر کې د افریقا د غربي دولتونو د اقتصادي ډلې د نظامي احتمالي مداخلې د ګواښونو پر ضد د ګډ دفاعي ځواک د رامنځته کېدو لپاره ترسره کړ.

د مالي ولسمشر "عاصمي ګویتا"، د نیجر ولسمشر جنرال "عبدالرحمن تیاني" او د بورکینیا ولسمشر "ابراهیم تراوري" د ۲۰۲۳م په سپټمبر کې تړون لاسلیک کړ، چې د مالي د بهرنیو چارو وزیر "عبدالله دیوب" په دغه سازمان کې څرګنده کړه: «ډېر ژر به د دغو دریو دولتونو تر منځ د نظامي او اقتصادي هڅو یو ترکیب رامنځته شي.»

دغه ګډ تړون چې د مالي، بورکینافاسو او نیجر رهبرۍ د ۲۰۲۳م د سپټمبر په ۱٦مه لاسلیک کړ، په اصل کې "د ساحلي دولتونو ایتلاف" جوړوي او د ایتلاف د تاسیس میثاق له ۱۷ مادو څخه جوړ شوی، چې لومړۍ ماده یې د دغه تړون نوم "لیپتا-ګورما" بیانوي او لاسلیکوونکو اړخونو د ساحلي دولتونو د ایتلاف پر رامنځته کېدو هوکړه کړې او په "AES" سره اختصارېږي. د دغه تړون د دویمې مادې پر اساس، له دغه تړون څخه موخه د یوه ټولیز جوړښت رامنځته کېدل او د لاسلیکوونکو اړخونو لپاره متقابلې مرستې دي. همدارنګه د دغه میثاق په ٦مه ماده کې راځي: «د دغه ایتلاف د یوه لوري پر رهبرۍ او ځمکنۍ بشپړتیا برید کول، په حقیقت کې د نورو لپاره دښمني ګڼل کېږي او همدا مسله ده چې متقابله همکاري لازمي کوي او د امنیت د ټینګښت په موخه وسلوال ځواکونه تنظیمېږي.» د دغه تړون په ۱۱مه ماده کې راځي: «دا یو پرانیستی ایتلاف دی، چې هر بل دولت له دغو دریو دولتونو سره په ورته جغرافیوي، سیاسي، ټولنیز او فرهنګي واقعیتونو کې یو ځای کېدلی شي او د دغه تړون موخې منلی شي.» (سرچینه: د الجزیرې څېړنیزه موسسه / ۲۵جون ۲۰۲۴م)

دا ایتلاف چې دغه درې دولتونه یې جوړوي، پخپله ٦مه او ۱۱مه ماده کې بیانوي، چې د دغه ایتلاف له رامنځته کېدو څخه موخه د پردیو د احتمالي نظامي مداخلو په ځانګړې توګه د فرانسې پر وړاندې مقابله او غبرګون دی؛ هغه احتمالي نظامي مداخلې چې د افریقا د غربي دولتونو د اقتصادي ډلې له لارې ممکنې دي او له دغه ایتلاف څخه موخه د یرغل په حالت کې د فرانسې د بهرني نظام زیانمنول دي. د دغه ایتلاف بل هدف دا دی، چې د افریقا د لویدیځو دولتونو د

اقتصادي ډلې په دننه کې درز رامنځته کړي؛ لکه څنګه چې د دغه تړون له ۱۱ مادې څخه څرګندېږي او هم له دغه ایتلاف سره د یو ځای کېدو په موخه د اقتصادي ډلې د غړو دولتونو له هڅولو څخه معلومېږي.

۳ـ مالي، نیجر او بورکینافاسو د ۲۰۲۴م د سپتمبر په ٦مه د کنفډریشن هوکړه لیک د رامنځته کېدو خبر ورکړ او په همدغه تاریخ دغو هېوادونو د نیجر په پلازمېنه کې لاسلیک کړ، چې په حقیقت کې د ساحلي دولتونو ایتلاف د هوکړه لیک بشپړوونکی و، کوم چې په لومړۍ ناسته کې لاسلیک شو.

«بورکینافاسو، مالي او نیجر چې د افریقا په ساحلي سیمه کې پراته دي؛ د شنبې په ورځ یې خپل اتحاد د یوه کنفډریشن په توګه اعلان کړ. دغو درې ګونو دولتونو په خپله وروستۍ بیانیه کې، د خپلې لومړۍ ناستې په بهیر کې د شنبې په ورځ د نیجر په پلازمېنه نیامي کې وویل: «د دغو دریو دولتونو مشرانو تصمیم نیولی، چې دغه غړي دولتونه باید له یوه ابتدایي پړاو څخه یوه ژور پړاو ته لاړ شي او له همدې امله یې هوکړه رامنځته کړه، چې د بورکینافاسو، مالي او نیجر تر منځ "د ساحلي دولتونو کنفډریشن" په نامه یو کنفډریشن جوړوي.» (سرچینه: الاحاد الاماراتیة ٦ جولای ۲۰۲۴م)

۴ـ که څه هم امریکا په دې اړه مستقیمې څرګندونې نه دي کړې؛ خو ټولې نښې پر دې دلالت کوي چې امریکا د پردې تر شا د ساحلي دولتونو د کنفډریشن د تاسیس هڅه کوله او امریکا غواړي چې له دغه کنفډریشن څخه د یوې ساتونکې کلا په توګه ګټه واخلي، ترڅو په دغو دولتونو کې یې مزدوران د "اکوواس" ډلې له فشارونو څخه خوندي کړي؛ په ځانګړې توګه دغه درې دولتونه چې تقریبا محاصره دي او اوبو ته د نه لاسرسي په سبب یې سوداګري له ستونزو سره مخ ده. له بل اړخه امریکا غواړي چې دغه درې هېوادونه باید یو ایتلاف وي، ترڅو د "اکوواس" پر وړاندې ودرېږي؛ هغه اکوواس چې فرانسه او بریتانیا پرې تسلط لري. همدارنګه همدا اوس د دغه کنفډریشن په اړه د "اکوواس" ډلې په دننه کې نیوکې راپورته شوې دي او د هغو د اصلاح غوښتنه یې کړې او دغه نیوکې د سنېګال د ولسمشر په خبرو کې څرګندې شوې. په دې معنا چې د کنفډریشن په لوري له "اکوواس" څخه د دغو دولتونو وتل یوه ممکنه چاره شوې ده.

۵ـ نو دغه کنفډریشن خپلسری او بې‌حسابه نه و، بلکې امریکا د دغو دریو مزدورو دولتونو تر منځ دغه کنفډریشن رامنځته کړ، ترڅو له دې لارې خپلې مستعمرې خوندي کړي او د اروپا په ځانګړې توګه د فرانسې د نفوذ مخه ونیسي، چې یو ځل بیا خپلو مستعمرو ته را ونه ګرځي. همدارنګه هغه پلانونه او اقدامات چې دغو دولتونو له دې اتحادیې وړاندې ترسره کړي، پر دې مسله ټینګار کوي چې ځینې پلانونه یې په لاندې ډول دي:

ا- بورکینافاسو او نیجر د ۲۰۲۳م د نومبر په میاشت کې اعلان وکړ، چې د ساحل د پنځه ګونو دولتونو ډلې د کار له ځواک څخه ووتل؛ لکه څنګه چې مالي هم د ۲۰۲۲م کال په مې میاشت کې د ساحل د پنځه ګونو دولتونو ډلې د کار له ځواک څخه ووت. بورکینافاسو او نیجر د شنبې په ورځ د ساحلي دولتونو له ډلې څخه د وتلو اعلان وکړ؛ البته دا د مالي له وتلو څخه یو نیم کال وروسته وو، چې له افریقایي ټولنې څخه بهر شو. د بورکینافاسو او نیجر حکومتونو په ګډه بیانیه کې چې

د بورکينافاسو رسمي خبري مرکز نشر کړه، داسې راغلي وو: «دا د رهبرۍ تصميم دی، چې له ژورې ارزونې وروسته دغه ډله او د هغې کړنلاره رامنځته شوې ده.» دا بيانيه زياتوي: «په ساحل کې د پنځه ګونې ډلې لپاره ممکنه نه ده، چې د ساحل اړوند ملت د زيان لپاره د پرديو ګټو ته خدمت وکړي؛ دا خو څه کوې چې يو قدرت دې د ګمراه کوونکي او ماشومانه شراکت په نامه د فشار له لارې زموږ د ملت او دولت د حاکميت له حق څخه منکر شي. نو بورکينافاسو او نيجر په بشپړ وضاحت سره له دې سيمې د وتلو تاريخي مسووليت پر غاړه لري.» (سرچينه: انادولو خبري اژانس؛ ۳ اکتوبر ۲۰۲۳م)

د مالي نظامي شورا د يکشنبې په بيانيه کې خبر ورکړ، چې هغه څو ملتي نظامي ځواک له ساحلي سيمې څخه د افريقا لويديځ ته لاړ، چې په ۲۰۱۴م کال د جهاديانو پر ضد رامنځته شوی و. نظامي شورا د ځواکونو د وتلو دغه تصميم په دې توجيه سره ونيو، چې مالي د ساحل د پنځه ګونو دولتونو د ډلې له اداره کولو څخه منعه شو؛ په داسې حال کې چې وړاندوينه داسې وه، چې باماکو به د ۲۰۲۲م کال په فبرورۍ کې د موريتانيا، چاد، بورکينافاسو او نيجر دولتونو د رهبرۍ لپاره د دغه کنفرانس کوربه وي؛ د اجازې نه ورکولو لامل د مالي داخلي بې ثباتي ښودل شوې وه، چې نظامي انقلاب يې شاهد و او د دغه نظامي انقلاب پر اساس نظامي شورا قدرت ته ورسېده. (سرچينه: فرانس ۲۴؛ ۱۶ مې ۲۰۲۲م)

ب: هر يوه مالي، نيجر او بورکينافاسو د ۲۰۲۴م کال په جنوري کې له "اکوواس" څخه د وتلو دليل دا اعلان کړ، چې د فرانسې له نفوذ څخه ځان خلاصوي او د تروريزم پر وړاندې د مبارزې په پلمه د هغې نظامي لاسوهنو ته نوره اجازه نه ورکوي؛ همدارنګه په دې بيانيه کې راغلي دي: «مالي، بورکينافاسو او نيجر د يکشنبې په ورځ د افريقا د لويديځو دولتونو له اقتصادي ډلې (اکوواس) څخه د وتلو تصميم ونيو.» په دې ګډه بيانيه کې چې د ساحل د درې ګونو دولتونو لخوا صادره شوه، داسې راپور وړاندې شوی چې درې ګوني دولتونه به له "اکوواس" څخه چې ۱۵ غړي لري، ډېر ژر بهر شي. درې ګوني دولتونه هغه دي، چې رهبري يې نظامي شوراوې او لنډمهاله انتقالي حکومتونه پر غاړه لري. دا بيانيه زياتوي: «اکوواس له پرديو څخه پر اغېزمنتيا او خپلو باورونو ته پر خيانت تورن دی، چې دغه اغېزمنتيا او خيانتونه د دغو دريو دولتونو لپاره ګواښ دی.» (سرچينه: انادولو خبري اژانس؛ ۲۸ جنوري ۲۰۲۴م)

۶ـ ټول دغه موارد څرګندوي چې دغه درې ګوني دولتونه د فرانسې تر نفوذ او اغېز لاندې سازمانونو څخه بهر شول، ترڅو د فرانسې له اغېز څخه ځان وژغوري. مګر دا لرې خبره ده چې دغه دولتونه دې په خپله اراده او تصميم د امريکا له ملاتړ پرته دغه ډول اقدام وکړي؛ بلکې د امريکا په امر يې کنفډريشن رامنځته کړ او د هغې په غوښتنه او اراده و، ترڅو "اکوواس" ټوټه ټوټه کړي او يا يې کمزورې کړي. همدغه دليل دی چې په دغو دريو مهمو هېوادونو کې، چې ۷۰ ميليونه اوسېدونکي لري، د فرانسې نفوذ له تزلزل سره مخ دی.

دغه درې دولتونه د انرژۍ او معادنو په برخه کې پرېمانه سرچينې لري، چې د فرانسې شرکتونو ورڅخه ګټه اخيسته، خو له دې وروسته همدغه کنفډريشن او د رهبرۍ دغه بصيرت ورته يو ګواښ دی، چې د ساحل په سيمه کې به ډېر دولتونه

د فرانسې د نفوذ له دايرې څخه وباسي. هغه بې‌ثباته حکومتونه دي، چې د دغو خاورو د سرچينو لوټلو ته يې د فرانسې په واسطه زمينه برابره کړې ده او د دې لامل شول چې له حکامو څخه دې شديد فقر او پراخ فساد په ميراث پاتې شي. د دغو نويو واقعيتونو پر اساس امريکا هغه نظاميان چې ورسره په اړيکه کې ده، د تروريزم پر وړاندې د مبارزې، د تمرين ورکولو او نظامي ملاتړ تر نامه لاندې ځان ته جذبوي او فريب ورکوي.

په ټوله کې ويلی شو چې د دغو دريو دولتونو د رهبرانو مقاومت د فرانسې پر وړاندې يو لوی گواښ گڼل کېږي، چې د فرانسې د نفوذ پر وړاندې رامنځته شوی دی، که څه هم د فرانسې نفوذ دلته له ډېر وخت راهيسې دوام درلود.

۷ـ په دې توگه واضح کېږي چې د اسلامي خاورو حکام د اسلامي خاورو تابعيت او پيروي له يوه استعمارگر دولت څخه بل استعمارگر دولت ته سپاري؛ دوی فرانسې ته شا کوي چې د مسلمانانو شتمنۍ يې لوټلې؛ خو امريکا ته مخ اړوي، هغه امريکا چې د مسلمانانو پاتې شتمنۍ يې چې له فقر او بېوزلۍ سره مخ دي، غلا کوي. داسې لکه مسلمانان چې د خپلو خاورو له حاکميت او کنټرول څخه عاجز وي؛ که څه هم دغه تريخ واقعيت ټولې اسلامي خاورې نيولې دي، خو د افريقا په خاورو کې د نورو په پرتله شديد او ژور دی.

نو په هره کچه چې د مسلمانانو سياسي ځيرکتيا او درک د خپل دين په اړه زياتېږي او په دې باوري کېږي چې د دنيا او اخرت له عذاب څخه د خلاصون يوازينۍ لاره پر دين منگولې لگول دي، په همغه اندازه د الله سبحانه وتعالی رضايت ته نږدې کېږي او د استعمارگرو کفارو پر وړاندې يې کينه او نفرت زياتېږي؛ هغه استعمارگر کفار چې د دوی د خاورو شتمنۍ خوري او دوی ته يې پر ځای فقر او بېوزلي پرېږدي. همدغه سياسي ځيرکتيا او درک دی چې مسلمانانو ته همت ورکوي او د دين د اقامې او د اسلامي دولت د تاسيس له لارې د اسلامي ژوند د بيا راگرځولو لپاره دوی ته ځواک ببښي؛ هغه اسلامي دولت چې مسلمانانو ته يووالي ورکوي، هغه دويم راشده خلافت دولت چې د نبوت پر منهج له ظالمو پاچاهانو وروسته تاسيس کېږي؛ هغه ظالم پاچاهان چې اوسمهال مسلمانان د دوی په عصر کې ژوند کوي.

موږ د الله سبحانه وتعالی په مرسته په هغه پړاو کې يو، چې د صبر کاسه مو ډکه شوې او مسلمانان يوازې يو گام د خلافت دولت له تاسيس، د اسلامي خاورو له يو ځای کولو او د هر استعمارگر کافر دولت له شړلو څخه لرې دي؛ بلکې هغو دولتونو ته به هدايت لېږي.

له شک پرته چې د دغه ډول واقعيت راوستل د الله سبحانه وتعالی لپاره سخت نه دي. رسول الله صلی الله عليه وسلم په هغه حديث کې چې احمد له حذيفه رضی الله عنه څخه روايت کړی، فرمايلي دي:

**«...ثُمَّ تَكُونُ مُلْكاً جَبْرِيَّةً فَتَكُونُ مَا شَاءَ اللهُ أَنْ تَكُونَ ثُمَّ يَرْفَعُهَا إِذَا شَاءَ أَنْ يَرْفَعَهَا ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةً عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ ثُمَّ سَكَتَ»**

**ژباړه:** *وروسته به جبريه پاچاهان راځي، تر هغه وخته چې الله (سبحانه وتعالی) وغواړي، کله چې وغواړي هغه به له منځه يوسي او وروسته به د نبوت پر منهج خلافت راځي؛ بيا چوپ شو.*

**۱۴۴٦هـ.ق کال د محرم الحرام ۱۸مه**

**۲۰۲۴م کال د جولای ۲۴مه**

**ژباړن: ابوبکر منصور**